مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان ۲۰۲۲/۰۲/۱۴

متعصب بایډن غچ اخلي

امریکا مخ پر ځوړ روانه ده. هیڅا تصور نه کاوه چې د امریکا ملت به دومره پرېوزي چې یو قمارباز او نیمه لیونی دونالد ټرامپ به واک ته رسوي او ټوله نړۍ به د امریکا د لوی ملت پر دې غیر عاقلانه انتخاب سره حیرانوي. هغه وخت چې امریکایي عبدالله عبدالله (ټرامپ) د خساسري بایډن په وړاندې ټاکنې وبایللې او د نه منم، نه منم لړۍ یې پیل کړه، یو وار بیا یې ټوله نړۍ د یو پرادوکس او بیساري حیرانتیا سره مخ کړه او پیروانو یې د کنګرس پر ودانۍ برید وکړ.
دا ولې؟ ټولې نښې نښانې داسې ښیي چې امریکا خپله ناوړه راتلونکی په اوبو او لویدو کې لیدلې ده او د نړۍ د یواځینی زبرځواک په توګه په ورو او تدریجی توګه خپل نړیوال حیثیت له لاسه ورکوي. ددې اصلی دلیل دادی چې امریکا د خپلو ټولو ناروا ګټو او زبرځواکتیا د ساتلو له پاره له ټولو انسانی ضد، غیر معمولو لارو چارو (نظامی مداخلو، د مستقلو دولتونو پر ضد له کودتاګانو او حتی له تروریسم) څخه ګټه پورته کړیده. د امریکا د باندنیو چارو وزیرې هیلاری کلینټن د طالبانو پر ضد د جګړې په هکله په ډاګه ویل چې: «مونږ هغه څه ریبو، چې مونږ کرلي دي.«
د مطلب د لنډیز له پاره پر ځینو پېښو ځغلند نظر آچوو:
-د امریکائیانو د یرغل سره سم د هغو طالبانو نیول، بندی کیدل او وژل کیده پیل شول، کومو چې د افغانانو سره، سولې او روغې جوړې ته زړه ښه کاوه.
-افغانانو له امریکائیانو غوښتل څو خپل پنجابی متحدین دې ته اړ کړي چې ملا برادر د سوله ایزو خبرو آترو لپاره را خلاص کړی، خو څو څو واره پاکستانی مقاماتو افغانانو ته وویل چې دا کار د امریکا له اجازې پرته امکان نه لري.
-په دوبۍ کې د معصوم ستانکزی او د طالبانو د لوړپوړو چارواکو (ملا جلیل آخوند، معتصم آغاجان، ملا عبدالرقیب تخاری) او طالب قوماندانانو په غونډه کې د سولې لپاره د طالبانو نیت په ډاګه شو، خو له هغې جملې ملا تخاری پېښور ته د ګرځیدو سره سم ووژل شو اوپر معتصم آغاجان سمدلاسه د اماراتو له خوا بندیزونه وضع شول.
-خو کله چې پاکستانی جنرالانو امریکا په دې قانع کړه چې پاکستان کولای شی افغانستان د امریکا د خوښې سره سم اداره او رهبری کړي، نو ددې کار له پاره امریکائیانو د دوحې پروسه پیل کړه.
د طالبانو د بریا په ویاړ د طالبانو له خوا د خوښۍ د ډزو او اورلوبو په وړاندې د دوحې امریکایي اتل خلیلزاد وویل چې: «طالبان باید هېر نه کړي چې بیلې امریکا له سل کاله نورې جګړې وروسته هم طالبان واک ته رسیدلای نه شول«
همدارنګه ګڼ شمېر لوړ پوړو او ټیټ پوړو طالبانو هم دومره په آسانه سره واک ته رسیدل خوب باله. خو امریکایي فرعونیان د داسې معجزو توان لري.
نن چې د افغانستان د کنګل شوو مالی زېرمو په اړه جو بایډن پرېکړه کوي چې د هغه پانګې یوه برخه باید د سپتامبر د ۱۱ قربانیانو ته تخصیص کړای شي، د جوبایډن دا پرېکړه د امریکایي چارواکو د افغان ضد بېساری تعصب، اخلاقی او سیاسی کمزورتیا استازیتوب کوي. د سپتامبر د ۱۱ اتل په اسلام آباد کې ووژل شو، خو د اعمالو په تور یې د پنجابی واکمنو پر ځای افغان ولس مجازات کیږي. دادی امریکایي وجدان!!!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکائیان د سړي جګړې له پای ته رسیدو دوې لسیزې وروسته هم نه هېروي چې آزاد او مستقل افغانستان د نړۍ د زبرځواک فرعون (امریکا) هغه وړاندیز رد کړی وو چې افغانستان باید د هغې له مخې د سنټو او سیاتو د استعماری تړونونو برخه ګرځیدلی وای.
د مطلب په پای کې: د پاکستان د آی-اس-آی مشر ندیم انجم د شمال غائلې د مشرانو سره په ترکیه کې لیدلی دی. افغانان باید پوه شی چې پاکستان غواړی له دې لارې یو وار بیا د افغانانو تر منځ د داخلی جګړې اور بل کړي. دا هڅې د پراخ بنسټه واکمنۍ هڅې نه بلکې ددې د پاره دی چې د طالبانو د واکمنۍ پر وړاندې چلینجونه ایجاد کړي، ځو طالبان د آی-اس –آی بې چون و چرا بندګۍ ته اړ کړي. ځکه طالبانو د پاکستانی طالبانو په اړه د پاکستانی شیطان خبره ونه منله. پاکستانی ابلیس غواړی پاکستانی طالبان د افغان طالبانو په زور اېل کړي. خو د پاکستان طالبان د افغان طالبانو ورونه او د یوې مور زامن دي. پاکستانی طالبان د افغان طالبانو په لیکو کې جنګیدلي، د افغان طالبانو له پاره یې چندې را ټولې کړي او هر ډول ممکنې مرستې یې ورسره کړیدي. طالبانو ته په کار ده چې د پرادو په وړاندې د ولس ملاتړ تر لاسه کړي. دا چاره هغه ممکنه ده چې طالبان د خلکو حقوقو او آزادیو ته درناوی وکړي او واکمنی د طالب حق نه بلکې د خلکو حق وبولي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ